AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۱/۱۷

# محمد جانان اخندزاده فدوي

## لومړۍ برخه




**دا لیکنه ما د جانان فدوي دیوان له پاره د سریزې په توګه دوه کاله پخوا کښلې وه. دغه دیوان ما د څلورو خطي نسخو او یو لړ چاپي آثارو له مخې ترتیب کړی او لومړی ټوک مې د چاپ له پاره ښاغلي حمدالله صحاف ته لیږلی وو چي په دې شپو ورځو کي چاپ سو.**

**د دې لیکني په خپرېدو کي مې مراد دوه ټکي دي:**

**یو دا چي د جانان فدوي دیوان د ترتیب او تکمیل او خپرېدو په خپل کار باندي درانه لوستونکي خبر کاندم او دوهم دا چي په ژوند باور نسته، ښه دئ چي د جانان فدوي پر ژوند باندي زما له کار او زیار څخه به تر خپرولو وروسته د راتلونکو څېړنو پر وخت که لازمه وه، استفاده وسي.**

**(م.هوتک)**

مولوي محمد جانان اخندزاده فدوي[۱] د پښتو او فارسي ژبي کثیرالکلام دیوان لرونکی شاعر دئ چي ادبي نړۍ ته وار د واره د علامه رشاد(رح) له خوا په پښتانه شعراء دریم ټوک کي ور وپېژندل سو(۱۳۴۲ هـ ش = ۱۹۶۳ع).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

علامه مرحوم دده پر ژوند او کلام په تفصیل سره رڼېدلی دئ. تر دوی وروسته چي زما په ګډون هر چا د جانان اخندزاده فدوي په باب لیکني خپرې کړي،د پښتانه شعراء تر مطالبو ئي زیات څه کښلي نه دي . زما دا اوسنی لیکنه به هم په همدغه چوکاټ کي محدوده روانه وي خو د محتویاتو سپړنه به ئي ښایي یو څه پراخه وي.

جانان اخندزاده فدوي د یار محمد زوی او د هارون لمسی او په قام هوتک او په هوتکو کي ملاخېل،غازي خېل، عمرزی دئ. د کورنی مشرانو ئي د علم برخه درلوده او په اخندزاده خېلو مشهوره ده. دغه کورنی د زابل ولایت د کلات ښار شمال ختیځ ته د سره غره په لمنو کي میشته وه او فدوي د خپلي استوګني مېنه " مرغه" او په مرغه کي بیا "زهره" یادوي. ده ویلي دي:

هوتک زمـــــــــا نسب وطن دئ
پـه سرهٔ غـرهٔ کښي مـي مسکن دئ
په سرهٔ غـرهٔ کښي بيا مـــــرغه دئ
په مــــــرغه کښي بيا زهره[۲]دئ

( خطي دیوان ۳۴۰مخ)

د جانان اخندزاده فدوي ژوند د علامه رشاد د تحقیق له مخي تر (۱۳۰۹هـ ق) پوري یقیني دئ [۳]. دغه کال د امیر عبدالرحمان خان د پاچهی له یوولسم کال سره برابر دئ. د فدوي زیارت پخپل کلي کي دئ او عام و خاص ورځي.

ما د ۲۰۱۸ع کال په (اکتوبر کي له ښاغلي زاهد څخه د جانان فدوي د اولادې په باب پوښتنه وکړه. ده راته ولیکل چي د زابل ولایت د شینکی اولسوالی په زهرې (وسټی) کلي کي د فدوي (رح) درې لمسیان پاته دي چي عبدالخالق اخندزاده، عبدالرازق اخندزاده او عبدالمنان اخندزاده نومېږي. دوی په سیمه کي واړه امامتونه لري. خلک په درنه سترګه ورته ګوري. ستانه ئي ګڼي. نرم او عاجزه خلک دي.

جانان فدوي په طریقت کي د نقشبندیه سلسلې د مشهور مقتداء حاجي دوست محمد قندهاري ( ۱۲۱۶ ـ ۱۲۸۴هـ ق ) خلیفه وو. جانان فدوي په یوه شعر کي د خپل دغه مرشد په باب وايي:

حضرت دوست مـحـمـدحاجي درياب دفقر
هـــــــــــر ګفتارئي دعرفان د بحر دُر وي

جانان فدوي د خپل مرشدحاجي دوست محمد قندهاری په باب په پښتو او فارسي شعرونه ویلي دي او د هغه روحاني مقام ئي په درنو الفاظو بیان کړی دئ.

حاجي دوست محمد قندهاری په قام یوسفزی پښتون وو او په ۱۲۱۶ هـ ق کي کندهار ته نزدې پخپل پلرني کلي کي زیږېدلی وو. پلار ئي ملا علي اخند نومېدئ. د ملا علي اخند اولاد نه پائېدی او ډېر اولادونه (لوني زامن) ئي د حاجي دوست محمد تر زیږېدو پخوا مړه سوي ول. حاجي دوست محمد قندهاري لومړني تعلیمات پخپله پلرنی مېنه کي کړي ول. قرآن مجید ئي له تجوید سره حفظ کړی وو. خو په هغه وخت کي دده پلرنی تاټوټی ددې نه وو چي ددغه ځیرک طالب العلم تنده دي په ماته سي. دی د علم په طلب پسي کابل ته ولاړ او هورې ئي مروج تحصیل وکړ. وروسته د حج فریضي اداکولو په نیت حرمینو شریفینو ته ولاړ او په مکه معظمه او مدینه منوره کي ئي څو کاله د علم تحصیل وکړ. ده ته په حرمینو کي خورا ژور روحاني کیفیتونه پېښ سول چي د هغو تر اغېزې لاندې ئي له حرمینوڅخه تر بیرته راتګ وروسته د کردستان سلیمانیې ښار ته سفر وکړ او هورې د شیخ عبدالله براني؟ په خدمت کي حاضر سو. له شیخ رحمة الله سره تر څه مودې وروسته د نومړي په لاربښونه هندوستان ته ولاړ او د حضرت شیخ احمدسعید دهلوي ( وفات ۱۲۷۷هـ ق ) خدمت ته ئي ځان ورساوه. په لږ موده کي ئي له شیخ احمدسعید (رح) څخه د نقشبندیه، مجددیه، قادریه، چشتیه، سهروردیه او کبریه سلسلې د ارشاد اذن ترلاسه کړ او کله چي شیخ احمدسعید (رح) حرمینو ته په سفر روانېدی، حاجي دوست محمد قندهاری ئي خپل خلیفه وټاکه او افغانستان ته ئي د تګ لاربښوونه ورته وکړه. حاجي صاحب د ناصرانو پښتنو د میمن قبیلي له کاروان سره په ۱۲۵۱هـ ق کال ملګری سو او د کلات په غنډانو کي ئي د ملاعبدالحق او حاجي محمد صدیق په مالي مرسته خانقاه جوړه کړه. حاجي صاحب درې خانقاوې درلودې. یوه په موسی زو کي، بله په دهلي کي او دریمه په خراسان کي [۴].د خراسان له خانقاه څخه مراد همدا د غنډانو خانقاه ده.دوبی (اوړی)به ئي په غنډانو کي تېراوه او په ژمي به د دامان علاقي ته تئ. په دامان کي ئي په ۱۲۶۶هـ ق کال خانقاه ودانه کړې وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

حاجي دوست محمد قندهارى د ۱۲۸۴هـ ق كال د شوال پر ۲۳مه وفات او په موسى زي كي خاورو ته وسپارل سو. زيارت ته ئي اوس هم عام و خاص ورځي.تر وفات پخوا ئي محمد عثمان داماني د خپل خليفه اعظم په توګه ټاکلی وو. خليفه محمد عثمان داماني نقشبندي په ۱۲۴۴هـ ق كال د ډيره اسماعيل خان په لوني كلي كي زيږېدلی وو. پلار ئي مولانا موسى خان نومېدئ او په خټه اڅکزی وو.مور ئي د بنده نواز سيد محمد ګيسو دراز له كورنی څخه وه . خليفه محمد عثمان د ۱۳۱۴ هـ ق كال د شعبان پر ۲۲ مه د دوشنبې په ورځ وفات سو او په موسى زو كي د خپل مرشد حاجي دوست محمد قندهاري څنګ ته ښخ سو.تر وفات ورو سته ئي زوی خواجه سراج الدين نقشبندي پر ځای کښېنوست. د خليفه محمد عثمان مكتوبات د (تحفهٔ زاهديه) په نامه له اردو ترجمي سره چاپ سوی دئ.

د حاجي دوست محمد قندهاري يو تصنيف (مكتوبات) پاته دئ چي ډاکټر غلام مصطفى په همت خپور سوی دئ [۵]. په مكتوبات حاجي دوست محمد کي د جانان فدوي په نامه دوه مكتوبه سته چي په يوه کي ئي د" مولوى محمدجانان آخوندزاده" په نامه بللی دئ او ليکلي ئي دي" ... از ساكنان مرغه است ولد قاضی ملا يارمحمد آخوندزاده كه از خانوادهٔ كلان است. جامع علوم متداوله در علم تصوف بی نظير است ... فقير را در بارهٔ او محبت كثير و اورا نيز ارادت و مودت بی شمار است" [۶]

## د لومړی برخي لمنليکونه:

۱ ــ فدوي په (ساكن دال) بايد دوې څپې ولوستل سي. زه ايکي يو وار پر داسي ځای پيښ سوم چي د (فدوي) وينګ درې څپه ييز هم کېدلای سي:

"فدوي نفس رشتيا نه اروي له سره"

خو كه فدوي درې څپي ولولو نو (رشتيا) بايد دوې څپي تلفظ سي، كنه وزن خرابيږي.په فارسي اشعارو کي ئي تخلص (خامی) دئ خو ما ئي په پښتو اشعارو کي هم دوه ځايه خامي تخلص وموند. يو ځای د "ب" په رديف او بل ځای د "ګ" په رديف کي.

۲ــ زما د وروستيو معلوماتو له مخي (زهره) او س د (وستی) په نامه هم يادېږي.

۳ــ وګ : پښتانه شعراء ــ دريم ټوک ــ ۷۰۱ مخ ــ ۱۳۴۲ ش، كابل

۴ــ وګ : فوايد عثمانيه ــ ۱۷۲ او ۱۷۴مخونه

۵ــ دغه معلومات د " جماعت اصلاح المسلمين" په ويبپاڼه کي د مختار احمد كهوكهر له اردو مقالي څخه په ډېر اختصار ژباړل سوي دي. خو دا خبره بايد پر زياته سي چي علامه رشاد په خپل ناچاپ ( پښتانه مصنفين ــ دوهم ټوک) کي د مكتوبات حاجي دوست محمد كندهاري راټولوونكی مولوي محمد عادل كاکړ بللی دئ.

۶ــ مكتوبات حاجی دوست محمد ، صــ ۵۷، چاپ ملتان

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ